ارسالی : قاسم باز ۲۰۱۷/۲/۲۸

**من به شخصیت سیاسی، فرهنگی و اجتماعی محترم اقای سلیمان لایق کاری ندارم، ولی این شعر وی در حصه بعضی دیموکراتیک ها اسلامگراها و یک عده مفت خوران تعویذ نویس و استراحت طلبان خوب صدق میکند، بهمین خاطر خواستم تا این شعر زیبای اقای لایق را همرای شما هموطنان عزیز شریک سازم. قاسم باز**

**سلیمان لایق**

# "سیاسی مداری"

**غبړ چی د قدرت شی دی لا مخکی ورته زین شی**
**ته به وایی دا شیطان له ځمکی نه را شین شی**
**هر څوک چی را واوړی د آمو د سین پر لیکه**
**دی ورته کابل کی په سجده نقش زمین شی**
**بل افغان زوی چی عزت مومی په وطن کی**
**دا مزدور له پوزی نه تر پوندو ورته خوږین شی**
**ذهن ته چی ورشی د پښتون په برخه بره**
**کله ملاخیل، کله منګل، کله ترین شی**
**بیا چی د تاجیک په هکله سم شی کار د ورځو**
**دغه ګوډاګی بیا د پنجشیر یا د نهرین شی**
**کله چی نامیند شی له بری د انقلابه**
**بیا دا مداری د ملایانو همنشین شی**
**زه یی د یوه نوی پسرلی سترګی په لار یم**
**سور ګل به یی تور شی که به سپین شی که به شین شی**
**دا زما باور دی په دی تور انقلابی باندی**
**دی به مستقبل کی متحد د هر لعین شی**
**آن که د وطن په بیه جوړ شی کار د ورځو**
**دی به بی رقیبه دغی لوبی ته تعین شی**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ